سرلوځ مرادزی

۲۰۱۹/۰۸/۰۵

# غازي امان الله خان او کوز پښتانه

کوز پښتانه د بارکزیو له ځینو مشرانو ښه خاطره نه لري او وایی چې د تېر تاریخ سختو شېبو کې یې یوازې پرېښي او جفا یي ورسره کړې، خو د دې پښتنې قبیلې په منځ کې غازي امان الله خان بیا هغه شخصیت دی چې کوز پښتانه یې په اړه داسې ګیلې او نېوکې نه لري او دوی سره یې د برو پښتنو افغانانو د یووالي او یو موټیتوب لپاره هلې ځلې کړې دي.

لومړی سکانو او وروسته انګریزانو سره د پېښور ښار او د پښتنو سیمو د برخلیک په اړه غفلت او جفا، هغه نېوکه ده چې کوز پښتانه یې د بارکزو مشرانو په تړاو لري او د غازي امان الله خان له سلطنت وروسته هم د دې قبیلې د نورو مشرانو او واکمنانو په اړه ورته انځور لېدل کیږي.

په دې غفلت کې د پېښور سردارانو چې وروسته په تاریخ کې د مصاحبانو په نوم هم یاد شوي، زیات لاس لرلی. سلطان محمد خان طلایي او د هغه نور ورونه لکه یارمحمد خان، پیرمحمد خان او سید محمد خان تر نورو مخکې د پېښور او کوزو پښتنو په اړه لوبېدلي او د پېښور وروستی غمجن برخلیک د دغو ورونو د لنډ لید او ځانپالنې سره نږدې تړاو لري.

دغه ورونو په تېره بیا سلطان محمد خان طلایي په ختیځ کې د سکانو او انګریزانو په وړاندې سستي او بې پروایي کړې او په لویدیځ، یانې کابل کې یې د خپل میرني ورور امیر دوست محمد خان سره چې هغه مهال د کابل واکمن او امیر وو، سخته نا ځواني کړې ده.

«ده، (سلطان محمد خان طلایی) یوازې پېښور او خپله کورنۍ غوښته. ده فکر کاوه چې سکان برې مومی نوځکه یي سکانو سره ځان وتړه. دا د حیرانیتا وړ نه ده چې د پېښور سردارانو دا ډول کارونه کول. ابوټ Abbott د هزاره په خاطراتو کې لیکلي دي چې پښتونخوا کې له سکانو څخه زیاته له درانیو څخه کرکه کېده. ځکه پښتنو ته دوی معلوم شوي ول چې د قوم احساس ورسره نه وو. دوی یوازې د خپلې کورنۍ ښېګڼې غوښتې. سید احمد بریلوي د دې لپاره مبارزه کوله چې وطن او سیمه د رنجیت سنګه له ظلم څخه ازاده کړی. دی(سلطان محمد طلایي، لیکونکي) له خپل کشر میرني ورور دوست محمد خان سره جوړ نه وو او د دوی تر منځ پوره دښمني وه..... حقیقت دا دی د پېښور سرداران همیشه د سکانو سره ول چې له خپل کشر ورور دوست محمد خان څخه مستقل پاتې شي او که وکولای شي د کابل له تخته یې راوپرځوي»(۱)

ترسلطان محمد خان طلایي مخکې د هغه مشر ورور یارمحمد خان په ۱۸۲۹ کال د سید احمد شا بریلوي سره په جګړه کې ټپي شو چې وروسته نوموړی له دغه ټپونو ومړ او پرځای یې د چارو واګې سلطان محمد خان طلایي ته ورسېدې. فخر افغان پاچا خان لیکي«د هندوستان له هغه سر څخه سید احمد بریلوي او اسماعیل شهید په دوی یانې پښتنو ننګ او غیرت کوي او د سهکانو د مقابلې لپاره د پښتنو خاورې ته راځي. د هغه وخت حکومت افغانستان لخوا(منظور یي د پېښور سرداران دی، لیکونکی) د ده سره مرسته ونه شوه بلکې د یارمحمد خان لخوا ورسره جګړه وشوه لکه څنګه چې د پښتو له دې زړې چاربیتې څرګندیږي:

روان شو یار محمد، سید اوباسي د پنجتاره
سید له برى ورکړې الهي پروردګاره »(۲)

د پاموړ دا ده، سید احمد بریلوي د سکانو په وړاندې د پښتنو په ننګ او ملاتړ درېږي، خو د پېښور واکمن سرداران بیا د سهکانو پرځای د پښتنو د ملاتړي بریلوي په وړاندې جنګیږي چې په پای کې داسې کړه وړه د سکهانو د لا پیاوړتیا او د هغو د وروستیو بریو لپاره لار اواروي!

پوهاند عبدالحی حبیبي هم په دې اړه لیکي«امیر بې له ځنډه ( امیر دوست محمد خان، لیکونکي) خپل ټول زامن په سیمو وټاکل، خو رنجیت سنګ د افغانستان له کورنیو شخړو ګټه واخیسته او ګرد پنجاب یي تر پېښوره ونیو. سردار سلطان محمد خان هم د بالا کوټ په جګړه کې سید احمد خان بریلوي او مولوي اسماعیل په مشرۍ د مجاهدینو په شهادت او د پېښور په صوبه کې د خپل ورور یار محمد خان په مړینه کمزوری شوی وو، دا وېره هم وه چې رنجیت سنګ به په خیبیر یرغل وکړي، نو ځکه امیر دوست محمد خان د یوه لیک په مټ د هند د ګورنر جنرال



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

لاردينتک څخه د پېښور د بيرته نيولو په چار کې مرسته وغوښته او د باسول له لارې يې د شپيته زره لښکر سره د پېښور په لوري حرکت وکړ، خو سلطان محمد خان د امير لښکر تار په تار کړ او امير بيرته ناکام له پېښوره خيبر او جلال اباد ته راستون شو. په دې توګه اشنغر تر کوهاټ او ټله د امير وررور سلطان محمد خان ته پاتې شو.(۳)
د تاريخ ليکونکي په دې همغږي دي چې دغو سردارانو د ژمنې پلازمينې پېښور او په کابل کې د امير دوست محمد خان د واکمنۍ په وړاندې نه يوازې د سکانو سره لاس يو کړی، بلکې ورووسته يې د پېښور او کابل په اړه انګريزانو سره هم، ورته تګلار مخې ته بيولې ده.
فخر افغان پاچاخان پخپل کتاب، زما ژوند او جدو جهد، کې ليکي«کله چې پيرنګيانو د بونير د نيولو په غرض په بونير حمله وکړه او د سورکاوۍ غزا وه ، نور خانان د پيرنګي ملګري ول او سيف الله خان بابا(د پاچاخان نيکه) د قام مرستې ته ورغی، دا رنګه زما غور نيکه عبيدالله خان بابا ازاد خيال، پياوړی او منلی مشر وو چې د هغه وخت د درانو حاکم سلطان محمد خان طلايي د لاسه پهانسي شو« په پياوړي ګومان عبيد الله خان به هم د سکهانو سره د دښمنۍ په وجه پهانسي شوی وي، ليکونکی). د درانو حکومت په عياشۍ، په خپل قوم د زور زياتې، د کورني اختلافاتو او جنګونو په وجه ختم شو او د دې نه وروسته د سکهانو حکومت راغی، درانو چې واورېدل سکهان راروان دي شپه په شپه کابل ته وتښتېدل او پښتانه يې سکهانو ته پرېښودل»(۴)
همدارنګه پاچا خان زياتوي«د سکهانو نه پس د پيرنګيانو وار راغی. پيرنګی خو خپله د سمندر له غاړې راغلی وو، خو دا ورته معلومه وه چې د هندوستان د تاريخ ټولې حملې د قطب نه شوې دي او د خپل برتانوي هندوستان سلطنت ساتلو لپاره هغه د پښتنو خاورې ته راپوريوت چې پر هغه درو، لارو او سيندونو قبضه وکړي چې په کومو د بهر نه حملې شوې وی»(۵)
شاشجاع هم لومړی سکانو او وروسته انګريزانو سره د کابل د نيولو په تمه، د پېښور برخليک په اړه ورته ناوړه لوبې کړې.
غازي امان الله خان چې د پېښور د سردارانو پر ځای، د کابل د سردارانو سره تړاو لري او د امير عبدالرحمان خان او افضل خان له لارې يې پښتليک امير دوست محمد خان ته رسيږي، يوازيني واکمن دی چې کوزو پښتنو کې ښاغلی او منلی ياديږي. د افغانستان په خپلواکۍ سره نوموړي نه يوازې په کوزو پښتنو، بلکې د لوی هند په ولسونو کې هم د خپلواکۍ سا ورپوو کړه. د افغانستان د خپلواکۍ غورځنګ چې افغان زلميانو د غازي امان الله خان او محمود طرزي په لارښوونه پيل کړی وو، برتاوي هند ته لاره وکړه او هلته د انګريزانو په وړاندې د پښتنو او هنديانو د ويښتوب او پاڅون لامل شو.
«کله چې په ۱۹۱۹ کال فبروری کې د خپلواکۍ اعلان کيږي او د همدې کال اپريل کې د برتانوي هند د بريد کربښې په لورخوځښت ترسره کيږي، سره له دې چې د جګړې اعلان نه دی شوی او د دولتونو سفيران ( سردار عبدالرحمان خان ) په ډهلي او ( حافظ سيف الله خان ) په کابل کې استوګن دي، تر ټولو ړومبی د ازاد سرحد ( پښتونستان ) په اوړدو کې په زرګونو پښتانه وسلوال جګړې ته چمتو کيږي او مشران يې لکه حاجي ترنګ زی او د چکنورې ملا سيب د ديورند له کوزې غاړې جلال اباد ته راځي. په محکوم پښتونستان کې د خدايي خدمتګارو د هغه مهال مشر فخر افغان پاچاخان په مشرۍ ملي احساسات راپاريږي. بلخوا پېښور کې ۳۲ کسيزه جرګګۍ د خپلو ۹۰۰ تنو ملګرو په ګډون د افغانستان د پوستې د چاړواکي ميرزا غلام حيدرخان پرشاوخوا راټوليږي او د مې مياشتې ترپايه په ټول پېښور کې د انګريز په ضد پاڅون کيږي. پښتنې رضاکارو ډلو لخوا د افغانستان دولت اعلاميې او د غازي امان الله خان مکتوبونه د انګريزانو په پوځي چونيو کې لاس پلاس ګرځي او د جبهې شاته د انګريز پر ضد د يرغل لپاره چمتووالي نيول کيږي. حتی شجاع الملک د چترال د چارو پازوال د انګريز د دولت ګوډاګی ( انګريزانو نوموړي په کوشنيتوب کې چې ۱۲ کلن وو، د چترال په پازوالی ګمارلی وو ) هم د غازي امان الله خان له ولولو ډکو مکتوبونو څخه په خپلواکۍ مين شوی وو.
بلخوا د اپريل له نيمايي روسته، د افغانستان د خپلواکۍ غورځنګ انګازې په ټول هند کې له يوه سره تربل خپريږي. په لاهور کې خلک عمومي پاڅون کوي او د انګريزانو پر وسلوالو پوليسو يرغل وروړي. له ډهلي څخه تر لاهوره د اورګاډي پټلی تر هغه بنده پاتيږي چې پوځي حکومت اعلان او خلک ټکول کيږي.»(۶)
د افغانستان د خپلواکۍ غورځنګ او په هغې کې د کوزو پښتنو ونده، د سيمې د ټولو خپلواکۍ غوښتونکو ولسونو لپاره په يوه الهام بدليږي. دا چې وروسته انګريزان اړوځي له هندوستان پښې سپکې کړي، د افغان خپلواکۍ غورځنګ څخه يې بې اغيزې نه شو ګڼلای.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

غازي امان الله خان چي د ۱۹۲۸ کال د جون په ۲۳ مه، د ۱۲ اروپايي او اسيايي هېوادو د ۷ مياشتني سفر بيرته هېواد ته راستون شو، په کور دننه(لکه سقاويان او مجددي خېل) او له بهر(لکه انګريز جاسوس لارنس) د ده پر ضد پروپاګيند زور اخيستی وو. د دې پروپاګيند په سر سر کې لوی تور دا وو چي تګلار او کارونه يې اسلام سره په ټکر کې دي.
په دغه تبليغ کې د امان الله خان او ملکې ثريا د اروپا د سفر پر مهال (ډسمبر۱۹۲۷- جون ۱۹۲۸) اخيستل شوي عکسونه هم د ده پرضد وېشل کېدل چي خلکو ته وښودل شي، د افغانستان ملکه په لوڅ مخ او سر ګرځي.
په همدې مهال د برو هېوادپالو افغانانو تر څنګ کوزه پښتونخوا کې هم د فخر افغان او نورو پښتنو مشرانو په مشرۍ، د غازي امان الله خان په ملاتړ پراخ غورځنګ رامنځته کېږي.
دوی په پېښور او شاوخوا سيمو کې د چندو يا بسپنو له لارې پيسي او دارو درمل راټول کړل چي افغانستان ته يې يوسي. دی وايي چي د ډېرو کوښښونو سره سره د انګرېزانو حکومت دوی نه پرېښودل چي افغانستان ته ولاړ شي.
«په پېښور کې نامتو ديني عالم او د هندوستان د خپلواکی مبارز، مولانا عبدالرحيم پوپلزي (۱۹۴۴-۱۸۹۰)، هم د شاه امان الله خلاف دسيسو باندي خلک وپوهول او د هغه د ملاتړ لپاره يې ديني عالمان منظم کول.
د دې تر څنګ، د کوټي او کندهار منځ کې پرتې کوږک دره کې زوکړي نامتو پښتو ولسي شاعر او د امان الله خان خواخوږي ديني عالم، ملا عبدالسلام (۱۹۷۴-۱۸۸۱)، خپله نژدې ټوله شاعري د امان الله خان ملاتړ او د انګرېزانو مخالفت ته ځانګړې کړې وه. د خلکو د پوهولو په لړ کې د ۱۹۲۸م کال د مي په مياشت کې، په پېښور کې د خان عبدالغفار خان (باچاخان) د "پښتون" مجلې په لومړۍ ګڼه کې"د افغانستان ملکه او د يورپ لباس" تر سرخط لاندې يو مضمون چاپ شو.
د عبدالحميد افغاني په دغه مقاله کې ليکل شوي ول چي د ملکې ثريا د عکسونو له کبله هغه کسان "په افغانستان کې د فساد پيدا کولو کوښښ کوي چي "د زمانې د رنګ نه ناشنا دي.»[۷]
غازي امان الله خان سره د کوزو پښتنو مينه، د خپلواکی له غورځنګ او وروسته له نوموړي غازي وياړلی ملاتړ، هغه څه دی چي د تېر تاريخ ناخوالو په هېرولو کې مرسته کولای شي.
ټينګ دې وي د لر او برافغان يووالی او پيوستون!
تل دې وي خپلواکي
ژوندی دې وي د غازي امان الله خان د وطنپالني خاطرې!

**اخځونه:**

[۱] پښتانه (پټان)، ليکوال سراولف کارو، پښتو ژباړن شيرمحمد کريمي، (۴۶۷ مخ)
[۲] زما ژوند او جدوجهد، پاچاخان (۷ مخ)
[۴] د افغانستان لنډ تاريخ، پوهاند عبدالحی حبيبي(۳۰۶ مخ)
[۴] زما ژوند او جدو جهد، پاچا خان(۵ مخ)
[۵] زما ژوند او جدو جهد، پاچا خان(۹ مخ)
[۶] معاصر افغانستان، د سردار اقبال عليشا ليکنه، لندن چاپ ۱۹۳۸
[۷] د امان الله خان د واکمنی او جلاوطنی په اړه نوې څېړني او موندني، ډاکټر داود BBC
پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ